## د اسراء او د معراج مباركه شپه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: {سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُو السَّمِيعُ البَصِيرُ} ژباړه: « هغه ذات پاك دی چې يوه شپه يې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه ليري (اقصي) مسجد پوري بوته، د هغه (محمد ص) چاپېرياڵ مو برکتي کړی دی، چې خپلې ځيني نښانې په وګورو (وښيو) په حقيقت کښي هماغه (الله) د هر څه اورېدونکی او ليدونکی دی.»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

بی له شکه د اسراء او د معراج د شپې سفر د رازونو څخه ډک سفر وو او د بشريت په تاريخ کښي يو ځانګړی سفر وو چې د آخرنی نبي په برخه شو دا وروسته لدي چې هغه او د هغه ملګرو پرله پسي ځو کلونه ستونزې او سختۍ وګاللي او د بعثت په لسم کال باندی ځو ورځی وروسته له هغي دغه سفر سرته ورسيده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل خوږ تره ابوطالب او همدارنګه خپله هوښياره بی بی سيده خديجه رضی الله عنها له لاسه ورکړل چې دوی دواړه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم لپاره په ژوند کښې قوی ملاتړي وو او د سختۍ په وخت کښې يي هغوی ته رجوع کوله.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم غم د طائف د غمجن سفر څخه وروسته نور هم زيات شو ځکه چې دا د هغه په خوږ ژوند کښې يو له سختو شيبو څخه وو، کله چې خپل قوم او نورو ورته زيان او ضرر ورسولو نو نبي

کریم صلی الله علیه وسلم طائف ته ولاړ پدي هیله چي د طائف خلک به یي مرسته وکړي خو هغوی یي ولیدل چي د خپل قوم څخه ډیر زیات زیان رسونکي او سخت وو ځکه چي هغوی خپل غلامان او ماشومان نبي کریم صلی الله علیه وسلم پسي کړل چي په تیږو باندی وولي تردي چي د هغه د مبارکو قدمونو څخه وینی روانی شولی نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیرته را ګرځیدو په وخت کي الله ته رجوع وکړه او دغه دعاء یی وکړه چي پکښي د بندګی او د عاجزۍ ټولي معناګانی پکي را ټول شوي هغه یواځي الله جل جلاله ته رجوع وکړه او وي ویل: ای الله زه تاته د خپلی ناتوانۍ بیچارګۍ او د کمزورتیا شکایت کوم ای په ټولو مهرباني کونکو کښي ډیر مهربانه! ته رب د ټولو بیچارګانو او د بی وزلو یي او ته زما رب یي ته ماچاته سپاري؟ هغه چاته می سپاري چي پرما برید وکړي؟ آیا هغه دښمن ته مي سپاري چي زما چاری په لاس کښي واخلي؟ که چیرته په ما باندی ستا غضب نه وی نو زه باک نلرم خو ستا مهربانی او بخښنه زما لپاره ډیره پراخه ده زه پناه غواړم لدی څخه چي ستا په مبارک مخ کي زما لپاره غضب راشي چي ټولی تیاري د هغه په برکت رڼآ شوي دي او د دنیا او د آخرت چاري یي سم کړي دي زه یواځی ستا رضایت او خوښي غواړمه ځکه چي ستا څخه ماسوا بل څوک د ځواک خاوند نشته.

نو همدا وو چي ددغه ټولو امتحانونو په منځ کي یو لوی امتحان رامنځته شو چي هغه د اسراء او د معراج د شپی سفر وو چي الله جل جلاله خپل نبي ته ټول غیبی حقیقتونه او د جهان پټ رازونه ورته وښودل چي له هغه ماسوا هیڅ یو نږدی ملایکی او هیڅ کوم نبي ته یي دا نه وو ښودلي او دا نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د تکریم او د هغه د زړه د لا ثابتوالي په خاطر سرته ورسیده ترڅو د هغه ایمان باور او یقین نور هم پدي باندي زیات شي چي الله جل جلاله د هغه سره دی او نبي کریم صلی الله علی وسلم د هغه په ضمانت کي دی او الله تعالی د هغه ساتونکی دی.

الله جل جلاله دي امام بوصیری ته ډېر خیر ورکړی چې ویلي يي دي:
په یوه شپه کې د یو حرم څخه بل حرم ته ولاړي* لکه چې سپوږمۍ په توره تیاره کې تګ کوي* پرمختګ او پیشرفت ته دی دومره ادامه ورکړه* تردی چې قاب قوسین ته ورسیدي چې هیڅ سترګو هغه ندی لیدلی* او هلته ټول پیغمرانو او رسولانو ته داسی پیشوا کړی لکه بادار چې د خپلو خادمانو څخه مخکي وي*.
د اسراء او معراج د شپي معجزه د لويو معجزو او د لويو نښو څخه شمیرل کیږي چې الله جل جلاله خپل نبي ته په برخه کړی دی دا چې مونږ دغي شپي ته نږدی شوي یو نو په ګډه سره ځیني لوی عبرتونه او همدارنګه هغه لوی درسونه وړاندي کوو چې مونږ او تاسو لپاره پدي کې پراته دي:
د اسبابو نیونه په الله جل جلاله باندي د توکل او د باور کولو سره په ټکر کې نه راځي الله جل جلاله خپل نبي ته د معراج په شپه باندي براق تابع ګرځولی وو ترڅو هغه پري سفر ترسره کړي سره لدي چې الله جل جلاله ددي توانمندي لرله چي خپل نبي بغیر له وسیلي څخه بوځي او سره لدي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم بشپړ باور درلود او په الله جل جلاله باندي يي توکل کولو خو چې کله هغه بیت المقدس ته ورسیدو نو خپل براق يی چی الله جل جلاله هغه ته ورکړی وو وتړولو ترڅو امت ته ددي لارښونه وکړي چې باید د اسبابو نیونه وکړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما دغه براق د هغه کړۍ پوري وتړلو چې پیغمبرانو به خپل اسونه تړل. امام نووی رحمه الله وايي: د براق په تړلو کښي دوه شیانو ته اشاره شوی یو دا چې په چارو کې باید احتیاط وکړی شي او بل دا چې د اسبابو نیونه وشي او دا په الله باندی د توکل کولو سره په تکر کښي نه راځي.
نو حقیقی مومن هغه دی چې میړاني سره کار کوي او پدي باور لري چې د هغه کار پرته هغه ته بل څه ژغورنه نشي ورکولی او په الله باندي

پداسي ميړاني سره توکل وکړي چې هغه پدي باندي باور او ايمان ولري چې هغه ته هيڅ زيان نه رسيږي مګر هغه چې الله جل جلاله ورته ليکلی وي او دغه سم او برابر درک د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ددغه وينا مقصد هم ده چې د اسبابو د نيوني په هکله يي کړي ده چې فرمايي: کوم يو په تاسو کې که داسي وي چې قيامت ورباندي راشي او د هغه په لاس کې بوټی وي نو هغه دي وکري او همدارنګه د توکل او باور په اړخ کښې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: که چيرته تاسو په الله باندي په ريښتيني توګه توکل وکړئ نو تاسو ته به داسي روزي درکړي لکه چې مارغانو ته ورکوي چې سهار په وږي خيټه ووځي او ماښام په مړه خيټه باندي کور ته راځي.
بل عبرت پکښې دا دی چې د ټولو انبياؤو او پيغمبرانو وروروليي پکې څرګنده شوي ده ټول پيغمبران او رسولان د يو رسالت خاوندان دي چې په اصولو او عقايدو کښې سره يو شان دي اګر که په شريعت او طريقه کې اختلاف لري الله جل جلاله فرمايی: {وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ} ژباړه: «موږ چې ستا څخه مخکې هر پيغمبر ليږلی دی، هغه ته مو همدغه وحيي کړېده، چي زما څخه پرته بل خدای نشته، نو تاسي همدا زما بندګي وکړئ» او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:ټول پيغمبران علاتي وررونه دی بيلابيلي مورګاني لري خو دين يي يو دی.
او عبدالله بن عباس رضی الله عنه د هغو لسو نصيحتونو په هکله چې د الله جل جلاله پدغه ايت کې راغلي دي: { قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ* وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا

ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ * وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} ژباړه: «[اې محمده (ص)!] دوی ته ووایه چي راشئ، زه تاسي ته اوروم چي ستاسي رب پر تاسي باندي څه بنديزونه لګولي دي: دا چي له هغه سره څوك مه شريكوئ؛ له مور او پلار سره ښه چار چلن وكړئ؛ خپل اولاد د مفلسی له وېري مه وژنئ، موږ تاسي ته هم روزي دركوو او هغو ته به يې هم وركړو؛ او د بې حيايۍ كارونو ته نژدې كېږئ هم مه، كه ښكاره وي او كه پټ؛ او هغه نفس چي الله هغه محترم ګرځولی دی، مه وژنئ مګر په حق سره. دا خبري دي چي ددې لارښوونه يې تاسي ته كړېده، تاسي بايد له پوهي او ادراك څخه كار واخلئ. او دا چي د يتيم مال ته مه نژدې كيږي، مګر په داسي توګه چي ډېره غوره وي، تر دې پوري چي هغه د خپل رُشد عمر ته ورسيږي. او په تول او پيمانه كښي پوره انصاف وكړئ، موږ پر هر چا د مسئوليت هماغه غوره پېټی ږدو څومره چي د هغه په وس كښي وي. او كله چي خبره كوئ، په عدالت سره يي وكړئ، كه معامله د خپل خپلوان وي هم. او له الله سره تعهد پوره كړئ. ددې خبرو ښوونه تاسي ته الله كړېده، په كار ده چي تاسي نصيحت ومنئ. دغه راز د هغه لارښوونه دا ده چي همدا زما سمه لاره ده، نو تاسي پر همدې لاړ شئ او په نورو لارو مه ځئ، چي هغه به تاسي له هغي لاري واړوي، تيت او پرك به مو كړي. دا هغه هدايت دی چي ستاسي رب دركړی دی، په كار ده چي تاسي له سرغړوني څخه ځان وژغورئ» پدي هكله فرمايي: دا مضبوط او محكم اياتونه دي چې په هيڅ شريعت د شرايعو كي نسخه شوي ندي او همدارنګه په هيڅ ملت د ملتونو كې ندي نسخه شوي دا په ټول بنی آدم باندي حرام ګرځول شوي دي او همدا ددي كتاب اصلي او بنسټيز شيان دي څوک چی پدي باندي عمل وكړي جنت ته داخليږي او څوک چې پريږدي اور ته داخليږي.

او بل عبرت پکې دا دی چې دا یوه لویه نښه ده چې الله جل جلاله پرې خپل نبي محمد صلی الله لیه وسلم ته عزت په برخه کړی پداسې ډول سره چې پیغمبران او رسولان یې ورته په بیت المقدس کې راټول کړل او د هغوی لپاره یې په لمانځه کې امامت وکړ او همدارنګه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هرکلی یې په لوړو اسمانونو کې وکړ چې ورته یې ویل ښه راغلاست ای نبي او نیک ورورره ښه راغلاست، او دا یو ډول اجازه وه چې امامت یې په څمکه کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته سپارلو او په عین وخت کښې یې هغه عهد او تړون پلی کولو چې الله جل جلاله له خپلو نبیانو څخه اخیستی وو لکه چې فرمایی: {وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ} ژباړه: «هغه وخت (یاد کړئ) چې الله له پیغمبرانو څخه وعده اخیستې وه چې: "نن موږ په کتاب، حکمت او پوهې سره سرلوړي کړی یې، سبا که تاسې ته کوم بل پیغمبر د هماغو هدایاتو رښتینی کوونکی درغی چې له مخکې څخه تاسې سره شته، نو تاسې به پر هغه ایمان راوړونکي او د هغه ملا تړونکي اوسئ" - په دې وینا سره الله پوښتنه وکړه: "ایا تاسې دا اقرار کړی او پر دې خبره مو زما له خوا د وعدې د روند مسئولیت پر غاړه اخیستی دی؟" - هغو وویل: "هو، موږ اقرار کړیدی." - الله وفرمایل: "ښه نو شاهدان اوسئ او زه هم له تاسې سره شاهد یم.» علی بن ابی طالب او عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي: الله جل جلاله هیڅ پیغمبر او نبي ندی رالیږلی مګر د هغه څخه یی دا عهد اخیستی دی چې کله الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم ولیږي او هغه ژوندی وي نو په هغه به ایمان راوړ یاو مرسته به ورسره کوي او همدارنګه الله جل جلاله دغه پیغمبرانو ته امر کړی وو چی خپل امت څخه هم دغه عهد واخلي چې که چیرته نبي کریم صلی الله

عليه وسلم د هغوی په زمانه کې راشي او هغوی ژوندي وي نو په هغه باندی به ایمان راوړي او مرسته به ورسره کوي.
بل عبرت دا دی چې د مسجد حرام ترڅنګ د مسجد اقصی مرتبه بیان شوي ده ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم لومړی هملته تللی وو او له هغه ځایه بیا لوړو اسمانونو ته ولاړ او بیا سدر منتهی ته ولاړ همدارنګه مسجد اقصی لومړنی قبله او دریم حرم دی او یو د هغو دریو جوماتونو څخه دی چې د لمانځه او د ثواب لپاره ورته سفر کیږي او همدارنګه دا د ځمکي پرمخ باندي دوهم جومات دی چې جوړ شوی دی د ابی ذر رضی الله عنه څخه روایت دی دی وایی چې ما وویل ای د الله رسوله په ځمکه کې لومړی کوم جومات جوړ شوی دی؟ هغه وفرمایل مسجد حرام بیا می ورته وویل بیا کوم جوړ شوی؟ بیا یی وفرمایل: د اقصی جومات، بیا می ورته وویل ددي دواړو ترمنځ څومره وخت وو؟ بیا یی وفرمایل څلویښت کاله بیا لدي دواړو وروسته هر چیرته چې د لمانځه وخت راغی نو لمونځ وکړه ځکه چې فضیلت په همدی کې دی، په اقصی جومات کښې لمونځ کول د نورو ځایونو څخه پینځه سوه چنده ډیره مرتبه لری ماسوا د دوه مسجدونو نه چې هغه مسجد حرام او مسجد نبوی دی ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: د مسجد حرام د لمونځ فضیلت په نورو باندی سل زره چنده دی او زما د جومات په زر چنده او د بیت المقدس په جومات کې لمونځ کول پینځه سوه چنده لوړه مرتبه لری نو د اقصی جومات د اسلامی مقدساتو یوه برخه ده چې جلا کیدلی تري نه شي او د محمد صلی الله علیه وسلم د امت په زړونو کې ځانګړی ځای لری او دا د ټولو مسلمانانو په غاړه امانت دی چې باید ددي ساتنه وکړي او همدارنګه په مونږ ټولو باندی دا لازمه ده چې خپلو بچیانو ته د دغه معنی ښودنه وکړو او هغوی پدی پوه کړو ترڅو راتلونکي نسلونه د اقصی د جومات مرتبه او سپیڅلتیا هیر نکړي چې د ټولو مسلمانانو په نزد باندي دا یو سپیڅلی ځای دی.

اقول قول هذا و استغفرالله لی و لکم.

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

درنو مسلمانانو وروڼو:

هر کال د اپریل د میاشتي په پیل کښې ټوله نړۍ د یتیم ورځ لمانځي، زمونږ اسلامي او د یني لارښوني پدي ټینګار کوي چې د یتیم پالنه او ساتنه باید وشی او دا د ټولو بشري سازمانونو څخه مخکی دغه خبره اسلام مبارک دین کړي ده چې په هغوی باید پاملرنه وشی او د هغوی حقونه باید ورته وسپارل شي لکه چې الله جل جلاله فرمایي: {وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ} ژباړه: «ستا څخه خلك پوښتنه کوي: "له یتیمانو سره دي څه ډول چلن وشي؟" - ورته ووایه: "په کوم ډول چلن کي چي د هغو ښېګڼه وي، د هماغه غوره کول ډېر ښه دي او که تاسي خپل او د هغو خرڅ او لګښت او ژوند، ژواك سره ګډ او سره شریک کړئ، څه باك نشته؛ نو هغوی خو ستاسي وروڼه دي. د ورانکارو او روغ چارو دواړو حال الله ته ښکاره دی. که د الله خوښه شوې وای؛ نو په دې کار کښې به یې تاسي له ستونزو سره مخامخ کړي وای، مګر هغه ډېر واکمنی سربېره د حکمت څښتن هم دی» پدغه آیات کښې که څوک فکر وکړي نو وبه ګوري چې د قرانکریم تعبیر د اصلاح په کلمی سره راغلی دی چې دا ټولو اړخونو ته شامليږي چې په هغوی پاملرنه او پالنه پکې راځي ځکه اصلاح خپله داسي یو لفظ دی چې ټول هغه څه ته شامليږي چې یتیم هغه ته اړتیا ولري ښایي یتیم پیسو ته اړتیا ولري نو اصلاح پدي کې ده چې د هغه سره نیکي وکړی شی او هغه سره مرسته وشی او ښایي یتیم پیسي ولري خو هغه به دیته اړتیا لری

چې د هغه سمه روزنه وشی اود هغه لپاره د مال ساتنه وشي نو د اصلاح معنا دلته بیا دا ده چې د هغه پالنه او روزنه وشی او کله به دیته اړتیا لري چې د هغه په مال کې سوداګري وکړی شي او یا دا چې د هغه د ځمکو د کرني چاري پرمخ یوړل شي نو اصلاح بیا همدا معنا ورکوي چې د هغه چاری په سمه توګه پرمخ یوړل شي او کله کله به داسي وي چې دیته به اړتیا نلري بلکی یواځی دیته به اړتیا لري چې د هغه سره مهرباني او مینه وشي ترڅو د پلار په څیر احساس ورته ورکړل شي نو د اصلاح معنا بیا دلته همدا ورکوي او ښایي اصلاح ددي معنا ورکړي چې هغه په غلطه لاره روان وي په سمه لاره يي روان کړي او د هغه اخلاق او سلوک راجوړ کړي نو پدغه بشپړي معنی سره د پاملرني او د کفالت په هکله قرانکریم کې بیلابیل ایاتونه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له لوري حدیثونه راغلي دي چې مونږ ټول یی دیته هڅولي یو چې د یتیمانو د احوالو پوښتنه وکړو او د هغوی د اصلاح لپاره کار وکړو او د هغوی چاري سم کړو.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د یتیمي او د یتیم سره نیکی وکړي نو زه او هغه به په جنت کې داسی یو ځای یو او پخپلو دوو مبارکو ګوتو باندي اشاره وکړه چې د غټي ګوتی ترڅنګ ګوته او منځنۍ ګوته يي سره یو ځای کړل او په هغي یی اشاره وکړه او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: په مسلمانانو کې غوره کور هغه دی چې په هغي کښې یتیم وي او د هغه سره نیکی کیږي او په مسلمانانو کښې بد کور هغه دی چې په هغي کې یتیم وي او د هغه سره ناوړه چلند کیږي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: چې د یتیم کفالت کوونکی او زه به په جنت کښې داسي یو او پخپلو دوو مبارکو ګوتو باندی يي اشاره وکړه چې د غټی ګوتي ترڅنګ ګوته او منځنۍ ګوته يي سره یو ځای کړل او په هغي يي اشاره وکړه.

ای الله مونږ د هغه کسانو د ډلي څخه وګرځوه چې د حق وینا آوري او په بنه ډول سره د هغي تابعداري کوي دا هغه کسان دي چې الله جل جلاله ورته هدایت کړی دی او همدا خاوندان د عقل دي.